آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۰۲

# لارورکي لارویان

## لسمه برخه

## د پېښور حالات

### د وفا دفتر او فرهنګیان:

د کور له خاوند سره مي په خپلو خبرو کې له کابل نه د راغلو ځینو فرهنګیانو نومونه یاد کړل او دا مي ور ته و ویل که له دغو خلکو نه یو هم پیدا شي، ډیره ښه خبره به وي. هماغه و چې د شپې په سبا په خپله د کور خاوند را سره شو او د فرهنګیانو په پته پسي و وتو.

په پیل کې هغه را ته و ویل چې په صدر بازار کې د افغانانو کوم فرهنګي دفتر دی، هلته به لاړ شو. ما نه صدر لیدلی و او نه کوم بل ځای، هر څه را ته نوي وو.

لکه بې اسرې ړوند انسان، کوربه مخکې او زه ور پسې. په صدر کې مو د نظر وړ فرهنګي دفتر پیدا کړ. په دفتر کې یوه ښکلې، با ادبه افغانه نجلۍ ناسته وه. زما کوربانه کیسه ور ته تیره کړه. یو څه وختونه تیر او یو څه د هر مهاجر افغان په څیره باندې دومره د غم لړۍ او دوړې پرتې وې چې په لومړي ګام کې پیژندنه یو څه ستونزمن کارو، ځکه نه ما نجلۍ وپیژانده او نه زه هغې. نجلۍ لکه رسمي مامورې، د میز تر شا پر څوکۍ باندې ناسته وه، له ما نه یې د نامه او په کابل کې د کار پوښتنه وکړه. ما زړه نا زړه و ویل:

زه آصف بهاند یم.

نور څه ویلو ته یې پرې نه ښودم، نجلۍ مسکۍ شوه او داسې خوشحاله وه لکه خپل پلار یا مشر وروړ یې چې لیدلی وي، را پاڅیده یو ځل بیا یې په لاسو ستړي مه شي را سره وکړه. خپل نوم یې را یاد کړ، چې اوس زما په یاد نه دی او ویل یې چې استاده په پلانکي کال کې دې زه شاګرده وم او...

ما په زړه کې ویل چې زه اوس له شاګردۍ او استادۍ در تیر یم، خلک را پیدا کوه. نجلۍ په ډیره مینه د ناستي او چای ست کاوه، خو زه او زما کوربه له چای نه د آدرس د تر لاسه کولو تږي وو، ځکه چې دویمه شپه د دې سړي کره تیرول له هیڅ پلوه منلی او ښه کار نه و.

نجلۍ چې زموږ ټینګار ته وکتل، سمدلاسه یې د وفا د دفتر آدرس په لاس را کړ او موږ هم مخامخ د پېښور ټوون نومي سیمې ته، چې د وفا دفتر هلته موقعیت درلوده، ور روان شوو.

وفا د اخبار نوم و چې په اونۍ کې یو وار خپریده، او د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې نشراتي ارګان و. مرکزي دفتر یې د پېښورپه ټوون کې موقعیت درلود. د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشري استاد رسول امین کوله او د وفا مسؤلیت استاد زلمی هیوادمل ته ورله غاړې و.

په ټوون کې مو د وفا دفتر پیدا کړ. له رسیدو سره سم مو ولیدل چې د دروازې په خوا کې یو کټ پروت و، په کټ کې یو زلمی کلاشینکوف په لا س د ساتونکي په ډول ناست و. کلاشینکوف ته په کتلو سره مي زړه کې تیرشول: څه دې کړم!

زه در نه ننبتم، ته را پسې یې او بیا، بیا په مخه راځې.

زلمی زموږ په لیدلو سره ځګ شو، له روغبړ نه وروسته یې په ډیر ادب پوښتنه وکړه:

«څوک مو په کاردي؟»

ما ور ته د هیوادمل، زرین انځور، عبیدالله محک، بریالی باجوړی او... نومونه یاد کړل.

ده و ویل:

«اوبښئ تاسو؟»

ما چې خپل نوم ور ته یاد کړ، نو یې کلاشینکوف غم لړلی په کټ باندې کینود او په غیږو یې په مزه ستړي مه شي را سره وکړه او په ورین تندي یې د ناستي ست وکړ. ښې سړې اوبه یې راوړې او په پښتني مینې سره یې مرکه پیل کړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د مرکي په ترڅ کي يي و ويل چي انځور صاحب خو جلال آباد ته تللی دی؛ خو دا نور دوستان به اوس را پيدا شي. زلمي د خپلو خبرو او پوښتنو لړۍ پسي اوږدوله چي عبيدالله محک را پيدا شو. ببره ږيره، هماغسي لکه کابل په چرتونو کي ډوب وچ کلک را روان و. زما په ليدو د چرتونو له ټال نه ورو ښکته شو؛ له ډير تعجب نه يي مځکي ته نه کتل، دوي سترګي يي په ما خښي کړي وي، چي ښه را نږدي او داډه شو چي دا آصف دی، په شونډو باندي يي د خوشحالۍ او تعجب خندا خوره شوه. په بيره راغی ټينګ يي په غيږ کي ونيولم، څو، څو ځلي يي را ته و ويل:

«شکردی چي ژوندی يي، شکر دی چي ښامارانو نه يي چيچلی.»

دی هم هماالته پر کټ باندي را سره کيناست، له ما نه يي د اور اخيستي زخمي کابل په باب ژر، ژر څو پوښتني وکړي. له پوښتنو وروسته مي په بيره د خپل شاد ګل توب پروني کيسه ور ته تيره کړه. محک مي پوه کړ چي:

دا ما سره راغلی سړی زه بيخي نه پيژنم. زه پرون ماښام په ډاګ پاتي وم، هغه هم د پرديو وطن د ماښام په سپيره ډاګ کي، ده په خپل کور کي ځای راکړ. وايي چي نوم مي... سلطاني دي او په کابل کي په کوم ښونځي کي ښوونکی و. زه به يي ترعمره د دې نيکی پور وړی اوسم. ده خو خپل سړيتوب او افغانيت په ځای کړ، اوس په کار ده چي موږ خپل خلک د دوی له کوره بل ځای ته بوزو.

بيا مو له کوربانه څخه په ډيري منني سره د عبيدالله محک کور ته مخه کړه.

محک د پيښور په پنډو روډ نومي ځاي کي اوسيده. هلته يو زيارت هم و، چي «پنډو بابا» يي باله. ما د پنډو بابا د ژوند د څرنګوالي په باب پوښتنه کوله، خو حالات داسي راغلي وو چي د مطالعي او تحقيق سر رشته را نه خطا وه، ځکه د «پنډو بابا» د بزرګی او د زيارت په فلسفه پوه نه شوم.

په پيښور کي به نږدې فرهنګي دوستانو، د دوستانه ټوکو په ډول، محک ته پنډو بابا ويل.

د شپي تر ډيرو مو له محک او د هغه له کورنی سره په مرکو تيره کړه. په سبا ورځي يي بيا د وفا دفتر ته لاړو. د وفا دفتر په پيښور کي د افغان فرهنګيانو د راټوليدو پته ځای و. اکثراً به همدلته ټوليدل او د يو بل له احواله به خبريدل. په دويمه ورځ چي زه او محک ورغلو، نو هيوادمل صاحب هم راغلی و. په ډير تعجب او خوشحالتيا يي را ته و ويل:

«نا وخته را و وتي، خو ښه ده چي ژوندی او روغ رمټ يي...»

د کورنی د نورو غړو او کابل پوښتنه يي را نه وکړه. زما چي څومره په ياد وو او حوصله مي درلوده، ور ته ومي ويل. بيا بريالی باجوړی را پيدا شو، مرکي نورې هم تودې شوې. د کيسو او خاطراتو په منځ کي د ناخوالو په را يادولو به زما په سترګو کي اوښکي هم راميلمني شوې...

بيانو هره ورځ زه وم او د وفا دفتر ته تګ. د محک کره مو څلور شپي تيري کړي، هيڅ مي د پرديتوب احساس و نه کړ. بيا مي په پيښور کي د خپلي مشرې خور آدرس پيدا کړ او هلته ورغلو.

له پاکستان نه مي د وتلو کاروونه ځکه نه شول پيل کولای، چي يو خوا زه نا بلد وم او د نورو دوستانوهم دا چل نه و زده، زه ناچار د انځور صاحب راتګ ته سترګي په لاري پاتي شوم. کورا کور ګرځيدم، هري خوا ته چي تلم، ما بايد منظم ياد داشتونه اخيستي وای، خو د لومړي ځل له پاره د مهاجرت چاپيريال، هغه هم له نهو تنو ماشومانو او ښځو سره يو څه ستونزمن کار و او زما فکري استقرار يي يو څه سره ګډوډ کړی و.

بيا مو کوهاټ ته مخه کړه. په کوهاټ کي زما د ميرمني د کورنۍ يوه برخه اوسيده. هلته هم د ژوند روابط او ظوابط داسي سره عيار شوي وو چي بيخي بدوي بڼه يي درلوده. زما خسرګنی سم تحصيل کړي او متمدن خلک دي، خو د پاکستان په کوهاټ کي يي د ژوند او کورنی روابط دومره په وروروسته پاتي بڼه عيار کړي وو چي انسان فکر کاوه چي زه دوه سوه کاله پخوا زمانو کي ژوند کوم. بيا بيرته پيښور ته راغلو او د باجوړي صاحب کره مو دري وي که څلور شپې، د پوهنتون د دوري کيسي او مرکي سره کولي. ور پسي د هيوادمل صاحب ميلمانه شوو.

ټولو دوستانو ډير لطف او مهرباني کوله؛ خو خدای حاضر دی چي په هيڅ ځای کي، هيڅ شي خوند نه راکاوه. يو خ ود لومړي ځل له پاره مهاجرت، هغه هم له يوی لويي ډلي سره، دويم بي سر نوشتي او نا مالومه تياره راتلونکي، دريم بيرته په وطن کي ناروا جګړه، د غلو او قاتلينو زوروواکي او...ما باندې فکر، ذکر، خوب، خوراک، د دوستانو ليدل او هر څه حرام کړي وو.

زما په همدي فکري اړو دوړ او ګرځيدا را ګرځيدا کي زرين انځور بيرته له جلال آباد نه پيښور ته راغی. دی چي زموږ له راتګ نه خبر شوی و، موږ يي پيدا کړو او مخامخ يي خپل کو رته بوتلو.

انځورصاحب په يوه لويه کلا کي خپلو کاکا زامنو سره اړولي و. دا کلا په پيښور کي د افغان مهاجرو د لوی کمپ «کچه ګړی» نه په تيريدو سره په شنو کروندو کي ولاړه وه. انځور صاحب ما ته و ويل چي د تګ تر ورځي به دا ماشومان دلته پاتي کيږي. ما چي هر څه انځور صاحب ته و ويل چي:

ګوره انځور صاحب!

دا خو د دوه، درې يا لسو شپو خبره نه ده، زه به يو کور په کرايه ونيسم، خو هغه چي د پيښور له رسمي او غير رسمي قوانينو سره بلدتيا درلوده، په ټينګار سره يي را ته ويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

«دا څو ټنګې دې چې په لاس کې دي، دا به په مصرف او د کور په اډوانس کې درنه لاړې شي، بیا به له دې ځایه د وتلو کار څنګه کوې؟»
موږ د کار تر پایه د دوی په کور کې دیره وو. مصرف خو لا څه کوې، چې د ښاري بسونو کرایې ته یې هم نه پرېښودم. زه او زما کورنۍ به د زرین انځور او د ده د ټولې کورنې دغه ملګرتیا او پښتونولۍ هیڅ کله هیره نه کړو او ټول عمر به یې زه ځان پور وړی ګنم.
دا کور او کورنۍ، د دوی ناسته پاسته، کړه وړه، د میلمنو ټګ راټګ چې ما ولیدل، ما ته د خوشحال بابا ستره کورنۍ را په یاد شوه. هر څه په کې معلوم وو: پوره پښتني ستر، کشر مشر، میلمه پالنه او ټول پښتني دود او دستور.
د کورنۍ مشر حاجي پیرمحمد ګردیوال نومیده چې د موټرو د پرزو تجارت یې کاوه. په لومړۍ ورځ یې چې زه ور ته معرفي کړم، نو ښه د زړه له اخلاصه مرکه یې را سره وکړه. دی یو دروند او ریښتینی پښتون و. دوه ورونه یې تر ده کشران وو. د یوه نوم دې د مرګي هیر شي، زما هیردی، بل یې «ولس» نومیده. د پېښور د ګرمیو یو تود ماخوستن و، ټولو په کټونوکې ډډې لګولې وې او کیسې مو سره کولې. «ولس» په خندا را ته و ویل:
ستا، ستا د کورنۍ او ورونو په باب زرین جان موږ ته ډیرې کیسې کړي دي، دا دی شکر دی چې ستاسو د کورنۍ لومړنی سړی چې ته یې، ومې لیدې، نور دې هر څه ښه دي، خو دا ږیره دې چې پرېښې وای، نو به څومره ښه ښکارېدې.
ما ته چې د ږیرو هر تار یوه بلا او یو آفت ثابت شوی و، نو په ډیره سړه سینه مې ورته، د ده د پښتونولۍ تر څنګه د ریښتیني اسلام صفات بیان کړل، په پای کې مې ور ته و ویل:
نور خو ډیر ښه سړی یې، خو چې دا ږیره دې رخیلې وای، څومره به ښه ښکارېدې.
ده وخندل او پوه شو چې زه څومره د ږیرولە لاسه زوریدلی یمه. بیا مې له ده نه په ښښنې سره خپل دغه شعر ورته واوراوه:

## دغه غرونه دا کمرونه

دغو کمرونو
وړاندې غره ته ګورې
زما د ملت
د آزادۍ
د نیکمرغیو
بد مرغو تاریخ دی
دغه کمرونه کله خړ
کله تور، تور ځلیږي
د برم خندا کوي بیا
او
او زما د نیکو د پرتمو کیسې په هسکه غاړه وایي پسې
خو همدغه غرونه
کمرونه
کله تور، تور
کله خړ، خړ ښکاره شي
او په ورېټ، ورېټ ژړیږي
او د کتو سترګې بیا نه لري چې
موږ ته په سم وګورې
همدغه غرونه
دا کمرونه اوس، اوس
په ماته غاړه
چیغو، چیغو وایې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

د هرې ږیرې هر ویښته
ژیندی د ستونو شوله
هر ږیره ور د زر انسانو یو قاتل جوړ شو
د هرې ږیرې هر ویښته لاندې نن
سل زر بلا دي پټې
او دا بلا زموږ په خلکو حکومت کوي نن
کابل
کابل یو بڼ و
چې نه سوړو، نه تود
له کنګل سوړ
له تناره څخه تود
د بلبلانو د ژوندون له پاره
خو اوس هم تود دی هم سوړ
د بلبلانو د مرګون له پاره

هغه لویه کلا چې دا ستره کورنی په کې اوسیده، د ښځینه او نارینه دوې جلا برخې یې درلودې. نارینه ګان او میلمانه د کلا په لومړنی برخه کې خوندي وو. دوی به په یوه لویه حجره کې کیناستل چې پینبوریان «بیټک» ورته وایي. په حجره کې یو لوی جاپانی ایرکندیشن لګول شوی و، د هغه په وجه دننه په حجره کې د ګرمی احساس نه کیده. ډیر میلمانه تلل او را تلل. د دې له پاره چې زه تنګ نه شم د یوازې توب احساس و نه کړم، نو زرین به هر کله زما په څنګ کې کیناسته، خلک به یې را ته معرفي کول د هغه ځای او خلکو د رسم و رواج او ناستې پاستې په باب به یې معلومات را کول.
یوه ورځ چې ډیر میلمانه تلل او راتلل، ما وپوښته چې دا ناست خلک څوک دي، ستاسو څه کیږي، له کوم ځای نه راغلي دي؟
انځور صاحب و ویل:
«زه دا خلک نه پیژنم. حاجي صاحب ویلي دي: هر څوک چې راتلل، په عزت او احترام به ډوډی، چای او د شپې د تیریدو ځای ور ته برابروئ او بیا به یې په ډیر احترام رخصتوئ.»
دا په اوسني وخت کې د یو ریښتیني پښتون حجره وه، د پوښتنې ځای په کې نه و، د هر میلمانه عزت په کې خوندي و.
حاجي پیرمحمد ګردیوال سره به هر کله د شپاړلس یا اووه لسو کلو یو زلمی ګرځیده. د هغه پوښتنه مې وکړه. انځور صاحب و ویل:
«دا یې لمسی دی. د دې هلک پلارد ۱۳۵۷ کال د اولې دورې په اړو دوړکې لا درکه شو. حاجي صاحب پیرمحمد ګردیوال سره له دې چې با نفوذ شخصیت و او له ډیرو سیاسي او دولتي مشرانو سره یې پیژندګلوي هم درلوده؛ خو تر څو چې یې پته لګوله، زوی یې ضایع شوی و. حاجي صاحب باندې زوی ډیر ګران و، اوس د هغه مینه په ده ماتوي.»
بیا نو زه ومه او زرین جان. د پینبور په بیلا بیلو ځایونو کې ښکته څه او پورته څه. انځور صاحب په یوه تریول ایجنسي کې څه پیژندګلوي درلوده. ده ویل چې دا بد خلک نه دي، یو واري به دوی سره وغږیږو. د دې مسافرتي دفتر په سر لیکلي وو:
«تاشقند تریول ایجنسي.»
چې ورغلو په ډیر احترام سره یې زموږ اسناد ولیدل، هغه څه چې کمبود وو، هغه یې را ته و ویل او نور یې زموږ د ویزې کارونه پیل کړل. ما د خروجي ویزې او په پاکستاني ادارو کې څه دفتري کارونه خلاص کړل او بیا مو پاسپورتونه د یادې ایجنسی مشر ته وسپارل چې د روسیې له سفارت نه ویزه را ته واخلي، ایجنسي والا موږ ته و ویل چې تاسو منتظر اوسئ. بیا نو زه او انځور وو او د وفا دفتر.
پیر محمد کاروان مې د لومړي ځل له پاره د وفا په دفتر کې ولید. دوه تنه نورو فرهنګیانو هم له استاد هیواد مل سره په وفا اخبار کې مرسته کوله. یو تن یې ظاهر بابري نومیده، بل تن ته یې پاچا، پاچا غږ کاوه. پاچا په اسلامي عقایدو ډیر ټینګ و. ټول فرهنګي دوستان خبر وو چې زه له خپلې کورنی سره د روسیې له لارې اروپا ته تګونکی یم. بله چاره نه وه. د پاکستاني پاسپورت او هوایي ټګ مصرف مو تر اروپا نه درلود، مجبوراً باید د مسکو له لارې تللي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

واى. يو خو لطيف لالا په ماسکو کي و، بايد د هغه ميرمن او درې ماشومان مي پرې سپارلي واى، بل دا چي روسيه اروپا ته د تګ له پاره د خېزد تختي حيثيت درلود.
د وفا په دفتر کي د هيوادمل صاحب همکار پاچا جي چي ښځګه پوه شو چي زه د مسکو په نيت روان يم؛ نو چنداني ښه نه وربانديې لګيدم، هره ورځ به يي بد، بد را ته کتل. زما خبرې او ناسته پاسته يي هم چنداني نه خوښيدل. کله چي زه په دې خبره ښه يقيني شوم چي د روسيې په لوري د تګ په وجه چنداني ښه نه ور باندې لګيږم، نو د ولې؟ پوښتنه مي وکړه. چا را ته و ويل چي په افغانستان کي، د روسانو د بمبار يو په ترڅ کي، د ده مور او پلار وژل شوي دي. ما د ده ستونزه درک کړه او نور مي ځان غلى کړ.
داسي وخت هم راغى چي روسيې او روسانو ته همدا بد بين پاچاجي زما غوندې مجبوراً د لار ورکو لارويانو د پلونو په ګرد پسي، ماسکو ته را ورسيد. هلته ما بد، بد ور ته و نه کتل، بلکي له ځان نه مي پر ده باندې زړه درد وکړ، چي دى د مجبوريت له مخې، د ده په نظر د کفر تردې هډې را و رسيد.
په ماسکو کي يوه ورځ فاروق فردا تيليفون را ته وکړ چي دفتر ته مي راشه کار مي در سره دى. ما فکر وکړ چي ګنې بيا د خپل اخبار (نويد) پروف را باندې اصلاح کوي. چي ورغلم هلته په خوا کي څوک ور سره ناست و. ما يوه معمولي ستړي مه شي وکړه. فردا ته مي ويل: ژر کوه، څه کار دى چي زه يي اجرا کړم، زما بيړه ده. دى موسکى شو، ناست کس ته يي په اشارې سره و ويل:
ودې نه پيژانده لکه چي؟
ما ويل نه.
ده د موسکا په لړ کي زياته کړه:
دا د وفا د دفتر کمپيوترست، پاچا جي دى، ستا پوښتنه يي کوله، ځکه مي را وغوښتي. پاچا جي سر او ږيره رخيلي وو، ځکه مي په اول سر کي و نه پيژانده. بيا مي په غيږ کي ټينګ کړ او سم پښتني روغبړ مي ورسره وکړ. يو څوشيبي مي مرکه ورسره وکړه، په پيښور کي د ميشتو فرهنګيانو پوښتنه مي ورنه وکړه. ما فکر وکړ چي دى به يو څه موده دلته تم کيږي، خو دى ډير ژر په بل لوري روان شو.
د ماسکو ژمى و. ما د افغانانو په تجارتي مرکز (سيواستوپول هوټل) کي يو دکانګى درلود. په هغه کي مي ژمنۍ کرتۍ او بوټان خرڅول. يوه ورځ چي د ماسکو د سړو ورځو نه يوه سړه ورځ وه، که ګورم پاچا جي د همدې تعمير په دروازه کي ولاړ دى او څه ګډ وډ کالي، چي د ماسکو له يخني او د مسافرت له لارو سره نه وو برابر، په تن کړي، رپيږي او چا ته انتظار باسي. ما چي د ده حالت وليد، پرته له سلام او کلام نه مي وپوښته:
څه کوې پاچا صاحب؟
ده ويل بس حرکت دى. ما په بيړه وپوښته:
يو پنځه دقيقي خو به دلته يې؟
ده ويل کيداى شي. زما دکان په ديارلسم منزل کي و، په بيړه مي يوه ژمنۍ کرتۍ ور ته را ښکته کړه، خو پاچا جي په خپلو لارو پسي روان شوى و. نور يي بيا په پته پوه نه شوم چي ښځګه او چيرې لاړ.

غمونه غرونه شول، درانه شول
پر ما راغلي د بيلتون درانه غمونه

د لسمي برخي پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ